مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه او زیاتونه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۰۹

# پنځه بدمرغه مسلمان ساینسپوهان

که څه هم د علم له مذهب سره څه تړاو نشته او اوسنی پرمختللي نړۍ ته د هر دین او ژبې عالمانو خدمت کړی؛ خو نن به هغه پنځه مسلمان ساینس پوهان دروښنایم چې خپله مسلمانانو پرې ژړا ورځ تیاره کړې او ژوند یې ورتباه کړی.

## ۱ـ یعقوب الکندی (۸۰۱ـ۸۷۳م)

دی د فلسفې، طبیعت، ریاضي، طب، موسیقي، کیمیا او فلکیاتو ستر عالم و. کله چې بغداد کې د وخت خلیفه بدل شو او د ده دښمن واک ته ورسېده؛ نو د خپلو سر سختو مذهبي ملاتړو د خوشحالۍ په خاطر یې د الکندي کتابتون ضبط کړ. هغه یې د ۶۰ کلنو په عمر د ګڼو خلکو تر مخ په دورو واهه. ده به له هرې دورې سره چیغه وکړه او د خلیفه مداحانو به یې چیغو ته چکچې ووهلې. الکندي هغه څوک و چې هندي اعداد یې ریاضي ته راشامل کړل. دی لومړی حکیم و چې له اثارو یې په اروپا کې ګټه اخیستل کېده. مرتضی مطهري لیکي: «عجیبه دا وه چې ځینو خلکو دی د نوم له امله یهودی باله؛ ځکه چې دی یعقوب نومېده او پلار یې اسحاق و.»

## ۲ـ ابن رشد (۱۱۲۶ ـ ۱۱۹۸م)

د اروپا په بیا راپورته کېدنې کې ستر رول لوبونکی ابن رشد د پناه شوي اندلس ستر عالم و. د وخت مسلمانانو دی بې دینه وباله او کتابونه یې ور وسوځول. ده د خپل ژوند وروستی میاشتې په ګمنامۍ او ذلت کې تیرې کړې. د یو روایت له مخې: په وروستیو کې ابن رشد د جومات ستنې پورې راوتړل شو او هر تن به یې چې له مخې تیرېده، ده ته به یې لاړې ورتوکلې. خو کله چې مړ شو، راجر بیکن یې اثار په اکسفورډ پوهنتون کې تدریس کړل او اوس یې هم یوه مجسمه په هسپانیا کې موجوده ده .

## ۳ـ ابوعلي حسین/ ابن سینا بلخي (۹۸۰ـ ۱۰۳۷م)

د معلوماتو د پلټلو تر ټولو ستره شبکه (ګوګل) هر کال په اګست میاشت کې د ابن سینا د زوکړې ورځ لمانځي؛ خو ایا خبر یئ چې ابن سینا هم د خپل وخت عالمانو ګمراه باله او مرتد یې ورته ویل. دی چې له اره د افغانستان و، د وخت پاچاهانو (غزنویانو) خپلو دربارونو ته ور غوښت؛ مګر ابن سینا به تری پټېده. د طب په برخه کې ستر کتاب (القانون فی الطب) یې هم د جلا وطنی او پټو شپو ترمنځ ولیکه. دغه کتاب ۶ پیړۍ د اروپا په معتبرو پوهنتونونو کې تدریسېده. ابن سینا په طب او موسیقي کې د ډېرو آلو مخترع دی. تقریباً ۴۵۰ علمي کتابونه او رسالې ده ته منسوب دي. په ځینو روایتونو کې یې شمیر ۲۲۰ راغلی دی.

## ۴ـ ابوبکر محمد بن ذکریا الرازی (۸۶۵ـ ۹۲۵م)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ستر فلسفي، کیمیا پوه، طبیب او د فلکیاتو ماهر ذکریا الرازی د خپل عروج په زمانه کي بدنام شو. خلکو ده ته درواغجن، ملحد او کافر وایه. د وخت حاکم یي په اړه امر کړی و: «د رازی تر ټولو ستر د ده سر د ده سر ته ونیسئ او دومره یي پري ووهئ، چي د ده کتاب وشکیږي او یا خو یي سر مات شي.» د همدي سزا له امله رازي لومړی ړوند او وروسته مړ شو. ویل کیږي چي له رازي نه ۱۸۷ ټوکه اثار پاتي شوي، چي ۲۲ یي یوازي په کیمیا او ۱۷ نور د فلسفي په اړه و .

## ۵ـ ابوموسی جابر ابن حیان (۷۲۱ـ ۸۱۵م)

د مغربي نړی عالمان جابر ته د نوي کیمیا پلار وایي. ده په کیمیا، طب، فلسفه او فلکیاتو کي ستره مطالعه درلوده. اوس یي هم (کتاب الکیمیاء) او (کتاب السابعین) د غرب په کتابتونونو کي موندل کیږي. د وخت حاکم د جابر شهرت هضم نشوای کړی. ځکه خو په ده هم د خراسان ځمکه سور تنور شوه او اړ شو چي له مختصر سامان او څو کتابونو سره د عراق بصري ته لاړ شي. خلکو د جابر مور په دورو ووژله. که د جابر هیوادوالو دی بې دینه باله؛ نو عراقیان بیا پري مینان شول. ده نیږدي ۶۰۰ کتابونه لیکلي چي ۲۱۵ یي موجود دي.

ژباړه او زیاتونه
سمسور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ